# ۱۰۰ دعاگاني

Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: +93779815770

(د سحر او ماښام مستند ذکرونه او دعاگاني)

مولوي محمد غني فاروقي

CamScanner

# ۱۰۰ دعاګانې

(د سحر او ماښام مستند ذکرونه او دعاګانې)

Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: +93779815770

لیکوال: مولوي محمد غني فاروقي

CamScanner

## د کتاب ځانګړني:

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | ۱۰۰ دعاګانې |
| ليکوال | :: | مولوي محمد غني فاروقي- ۰۷۹۹۸۰۰۹۳۵ |
| خپرندوی | :: | ګودر خپرندويه ټولنه |
| کمپوز/ ډيزاين | :: | صادق الله صادق- ۰۷۹۷۵۰۰۵۰۶ |
| | | عبدالهادي اثر |
| لومړی چاپ | :: | ۱۳۹۰ ل |
| دويم چاپ | :: | ۱۳۹۱ ل |
| چاپشمېر | :: | ۲۰۰۰ ټوکه |
| د خپرونو لړ | :: | (۱۱۴) |


**د چاپ حقوق له خپرندويې ټولنې سره خوندي دي.**

ګودر کتاب پلورنځی، لانديني پوړ، اسحق زی مارکېټ، بزازی
څلورلارې، جلالکوټ- **meenagoodar@gmail.com**

بسم الله الرحمن الرحيم

CamScanner

# ډالۍ

خپلو دوو خوېندو ته!

چې له کوچنیتوب څخه یې تر دې

مهاله د زړه په مینه روزلی او نازولی یم

فاروقي

CamScanner

# سریزه

زما د روح او فطرت د سنګر ملګرو !

زما له لورې مینه او د مینې پرګانه سینګار سلامونه ومنئ !

دا چې کتاب مو په لاس کې دی او د قلم د مرغلریزو اوښکو د امېلونو ننداره کوئ، نو مناسب به وي، چې د کتاب او قلم د نړۍ د مینه والو په خطاب مو ونازوم، خوښ یم چې خپل څو پاڼې کتاب؛ بلکې د خپل زړګي د بڼ څو شنې پاڼې د (شنه پاڼه او درویش ډالۍ) په ډولۍ کې ستاسې د ویښو فطرتونو ګاونډ کې ستاسې د کتاب پالو د زړونو ماڼیو ته د قبلولو او منلو په امېد د هیلو د کاروان په بدرګه درلېږم.

دا به زما د وخت او بخت د مینې، همغږۍ او غاړه غړۍ په مانا وي، چې ستاسې په څېر ګران او ښاغلي د اسلامي او ایماني معنوي مېوو او خوږو برخمن وروڼه او خویندې زما مانیزې، عقیدوي او اخلاقي هڅې ته د خپلو خپلواکو زړونو د هېواد په شاهي ماڼیو کې د مینې په تغر د ناستې او د مینې په روحاني جونګړه کې د مېلمستیا او بیا د هستوګنې ځای ورکړي.

په همدې هیله؛ غواړم څو شېبې مو څو ټکو ته په پام کې نیولو سره له ځانه سره ولرم.

ګرانو لوستونکیو !

ژوند د یوې ځانګړې موخې د لاسته راوړلو لپاره انسان ته د امانت په توګه ورکړل شوی، ددې ژوند موخه یوازې دنیوي، مادي، بریاوې او پرمختګونه نه دي، بلکې انسان فطرتاً اړ دی، چې د مادي تمدن او پرمختګ په څنګ کې د اسلامي او

سپېڅلي روحاني پرمختګ په فکر کې هم شي، مادي تهذيب او پرمختګ يوازې د انساني ژوند د تکامل او بريالیتوب تضمين نه شي کولای؛ بلکې هغه تهذيب چې اصل دی، معيار دی، د انسان لپاره په دنيوي، برزخي او اخروي ژوند کې د هر اړخيزې بريا واک، ځواک، پرمختګ او نجات تضمين کوي، د الله جل جلاله د توحيد په ګانه سينګار اسلامي، اخلاقي، روحاني تهذيب دی.

ددې لپاره چې د مادي تهذيب، تمدن او پرمختيا په څنګ کې په بشپړ ډول د اسلامي، ايماني او روحاني تهذيب له بنسټونو، معيارونو خبر او په رازونو يې پوی شو، د احساس د پياوړي ځواک او د زړه د سيمه ييزې مرکزي ادارې د فطرتي قانون د غوښتنو له مخې اړ او مکلف يو، چې د ژوند په ټولو چارو، حالاتو، حاجاتو، ورځو، شپو او شپبو کې يوازې الله تعالی ته د غوښتنو او دعاګانو ځولۍ وغوړوو، هره چاره کې ترټنه مرسته او پر هره ستونزه باندې ترټنه بريا وغواړو او ټول عبادات هماغه ستر ذات ته د اخلاص او د نبوي سنتو تابعدارۍ سره ځانګړې کړو، بيا به نو مونږ د باهدفه او ستراتېژيک ژوند اصل غوښتنه درک او منلې وي.

د کتاب او قلم د نړۍ مينه والو!

دا مهال ستاسو په ښکلو لاسونو کې (سل دعاګانې) کوچنی اثر دی، دا زما فطرتي، عقيدوي او اخلاقي مسئوليت دی، چې ورونو او خوېندو ته د خپل وس په کچه د الله جل جلاله د توحيد، قرآن او سنت د څراغ رڼا وروړسوم، په همدې بنسټ له الله تعالی څخه غواړم، چې زما دا نيمګړې هڅه خالص د خپلې

رضا لپاره وګرځوي او په دې سره د اسلامي امت وګړو ته د پر خیر ورسوي.

په پای کې د ګودر خپرندویه ټولنې اداري څخه مننه کوم، چې د کتاب د چاپ ټولې چارې یې په خپله غاړه واخیستې او په ځانګړې توګه د زلمي شاعر، لیکوال او کمپوزر صادق الله صادق نه مننه کوم، چې په ټوله مینه یې د کتاب کمپوز او ډیزاین کړی دی، په ژوند، فن او قلم یې برکت شه.

په درنښت

مولوي محمد غني فاروقي

مسجد مېنه- جلالکوټ

Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: +93779815770

CamScanner

# لیکلړ

سریزه / الف
د سهار او ماښام ذکرونه / ۱
د جنت خزانه / ۵
لس ځلې سحر او لس ځلې بېګاه کې درود ویل / ۷
د شپې پر مهال بستر باندې د اړخ بدلولو دعا / ۹
د ویده کېدلو پر مهال دعا / ۹
تسبیحات فاطمه رضي الله تعالی عنها / ۹
له خوب نه د وېښېدلو دعا / ۱۰
خوب کې د وېرېدلو دعا / ۱۰
د جامو د اغوستلو دعا / ۱۱
د جامو د مبارکۍ ورکولو دعا / ۱۱
بیت الخلا ته د ننوتلو دعا / ۱۲
بیت الخلا نه د وتلو دعا / ۱۲
آیینه (هینداره) کې د مخ کتلو دعا / ۱۲
جومات ته د ننوتلو دعا / ۱۳
جومات نه د وتلو دعا / ۱۳
د آذان نه وروسته دعا / ۱۳
د سحر د سنتو نه وروسته دعا / ۱۴
د تکبیر تحریمې څخه وروسته دعا / ۱۴
د رکوع او سجدې دعاګانې / ۱۵
د دوو سجدو دعا / ۱۵
د سجده تلاوت دعا / ۱۵
د تشهد او درود ویلو نه وروسته دعا / ۱۶
د سلام ګرځولو وروسته اذکار او دعاګانې / ۱۶
له رکوع وروسته دعا / ۱۷
د آذان مسنون ځواب / ۱۷
د وتر د سلام ګرځولو ورسته ذکر / ۱۷
د نوې میاشت د لیدلو دعا / ۱۷

د خوراک څښاک دعاګانې / ۱۸
د خوراک نه وروسته دعا / ۱۸
له اوبو څښلو څخه وروسته دعا / ۱۹
جومات کې د ورک شوي څيز تلاش کوونکي ته داسې خبره وکړه / ۱۹
د روژه ماتي پر مهال لومړۍ دعا / ۲۰
بازار ته د ننوتلو دعا / ۲۰
د استخارې دعا / ۲۰
د غم او خپګان پر مهال دعاګانې / ۲۱
د يونس عليه السلام دعا / ۲۲
د دښمن يا ظالم بادشاه نه د وېرې پر مهال دعا / ۲۲
د ماشوم د دمولو دعا / ۲۲
د ناروغۍ له درد څخه د شکايت پر مهال دعا / ۲۳
ناروغ ته دعا / ۲۳
د ناروغ د دمولو دعا / ۲۴
د ژوند نه د ناهيلي توب پر مهال دعا / ۲۴
د جنازې د لمانځه دعاګانې / ۲۵
د مړي د سپارلو دعا / ۲۶
د قبرونو د زيارت پر مهال دعا / ۲۶
له قرض (پور) نه د خلاصي دعا / ۲۷
د باران غوښتلو دعا / ۲۷
د باران د پيل کېدلو پر مهال دعا / ۲۷
د باران د ودرېدلو دعا / ۲۷
سفر ته د تلونکي د رخصتولو پر مهال دعا / ۲۸
د سورلۍ دعا / ۲۸
د سفر نه د راستنېدلو پر مهال چې کور ته ننوځي / ۲۹
کله چې چا ته څه ډالۍ ورکړې او هغه تا ته دعا وکړي / ۲۹
د پرنجي پر مهال دعا / ۳۰
کافر ته د پرنجي پر مهال دعا / ۳۰
د مجلس نه د پاڅېدلو دعا / ۳۰

مجلس کې استغفار کول/ ۳۱
کله چې تاته څوک ووايي:(زما له تا سره مينه ده) نو ته ورته داسې ووايه/ ۳۲
د حجر اسود د ښکلولو دعا / ۳۲
د هر لمانځه نه وروسته دا دعا ويل/ ۳۲
د وترو دعا / ۳۳
د ليلة القدر د ليدلو دعا / ۳۳
د ميزان (تلې) د ډکولو کلمې / ۳۴
دين کې د پوهې غوښتلو دعا / ۳۴
د غم (ناورين) د رسېدلو پر مهال دعا / ۳۴
د فرض لمانځه وروسته دعاګانې او ذکرونه / ۳۵
پر دين باندې د زړه د کلکوالي دعا / ۴۰
د ګټور علم د غوښتنې دعا / ۴۰
د اوداسه مسنون اذکار او دعاګانې / ۴۱
د نکاح دعاګانې / ۴۲
د مړي کوروالاوو ته د تعزيه (تسلی) دعا / ۴۳
له ناوړه ناروغيو څخه د نجات غوښتنې دعا / ۴۳
له پينځو بدمرغيو څخه د ځان ژغورنې دعا / ۴۳
د دعا د قبلېدو دعا / ۴۴
کور ته د ننوتلو دعا / ۴۴
کور نه د وتلو دعا / ۴۵
د رکن يماني او حجر اسود ترمينځ دعا / ۴۵
د عرفې په ورځ دعا / ۴۵
د کوم قوم يا دښمن نه د وېرې پر مهال دعا / ۴۶
د غمونو او پورونو د لرې کولو دعا / ۴۷
اسم اعظم / ۴۸
د صلاة التسبيح دعا / ۴۹
سرچينې / ۵۱

**۱) د سهار او ماښام ذکرونه:**

ابوبکر صدیق ﷛ رسول الله ﷺ ته وویل: چې ماته د سهار او ماښام لپاره څه ځانګړي ذکرونه وښایه، رسول الله ﷺ هغه ته دا ذکر وښود او ورته يې وویل: دا سحر، ماښام او د ویده کېدو پرمهال وایه.

بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لاَ يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الأَرْضِ وَلاَ فِي السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ(۱)

ژباړه: په نوم د الله ﷻ هغه ذات چې ضرر نه ورکوي، د هغه د نوم سره هیڅ څیز نه په ځمکه او نه په اسمان کې او هغه اورېدونکی او پوه ذات دی.

**ګټه:**

څوک چې دا دعا درې ځلې سحر او درې ځلې ماښام ولولي، نو هیڅ ډول مصیبت او مرض به ورته ونه رسېږي، په دغه ورځ او د[...]ه شپه کې.

**۲)** اللَّهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ النُّشُورُ.(۲)

ژباړه: ای الله ﷻ! ستا په قدرت موږ سحر کړو او ستا په قدرت موږ بېګا کړ او ستا په قدرت موږ ژوند تېروو او ستا په علم او قدرت به مړه کېږو او ستا لور ته درتلل دي.

---

۱. (الأدب المفرد بالتعليقات - (۱ / ۱۵۷)

۲. سنن أبی داود-ن - (۴ / ۴۷۲)

**ګته:**
رسول الله ﷺ به صحابه کرامو ته ددې دعا زده کړه ورکوله او حکم به يې کولو په ويلو ددې دعا باندې، خو پورته باد شوي الفاظ د سحر لپاره دي، بېګا کې به دا الفاظ وايي: اللَّهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ.[1]

ژباړه: ای الله جل جلاله موږ ستا په قدرت بېګاه کړ او ستا په قدرت مو سبا کړ او ستا په قدرت موږ ژوند تېروو او ستا په قدرت به مړه کېږو او ستا لور ته درګرځېدل دي.

**۳**) لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ.[2]

رسول الله ﷺ ويلي: کوم سړي چې يو ځل سحر کې دا کليمه ولوستله، نو د يو عربي غلام د ازادولو ثواب يې وشو، لس نېکۍ به ورته وليکل شي، لس ګناهونه به يې وبښل شي، لس درجې به يې لوړې شي او تر بېګاه پورې به له شيطان نه ساتل شوی وي.

همدا راز؛ چا چې ماښام وويله، نو هغه ته به دا انعامات ورکول کېږي. د بخاري او مسلم حديث کې ددې کليمې سل ځلې لوستل راغلي دي، دارنګې لس ځلې لوستل يې هم راغلي دي او ثوابونه يې له دې زيات دي.

**۴**) يَاحَيُّ، يَا قَيُّومُ، بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ، أَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ، وَلاَ

---
۱. مسند الصحابة في الكتب الستة - (۲/ ۷۱) وصحيح سنن ابن ماجة: ۳۸۲۸
۲. مسند الشافعي ترتيب السندي - (۰/ ۳۱۰)

تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ أَبَدًا.[۱]

ژباړه: ای ژوندی او تدبیر لرونکی ذاته! ستا په رحمت (ستا نه) سوال کوم، زما حالت ټول برابر کړې او ما هېڅرې خپل ځان ته مه سپاره، په اندازه د رپ د سترګې.

**ګټه**:

رسول الله ﷺ فاطمې رضي الله عنها ته ویلي و: دا زما نه خامخا واوره او سحر ماښام يې وایه.

**۵**) د سهار او ماښام لمانځه نه وروسته دعاګانې

اللّٰهُمَّ أَجِرْنِي مِنَ النَّارِ.[۲]

ژباړه: ای الله جل جلاله ماته پناه راکړې له اوره.

اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ اللّٰهُمَّ أَجِرْنِي مِنْ النَّارِ.

ژباړه: ای الله جل جلاله! زه له تا نه سوال کوم د جنت، ای الله جل جلاله! پناهي راکړې له اور نه.

**ګټه**:

مسلم بن حارث رضي الله تعالى عنه د خپل پلار نه روایت کوي: رسول الله ﷺ هغه ته ویلي و، کله چې دې د سبا لمونځ وکړ، نو وړاندې له خبرو کولو نه خلکو سره[۳] داسې ووایه: (اللّٰهُمَّ أَجِرْنِي مِنْ النَّارِ) که ته په دغه ورځ مړ شوې، نو الله تعالی به له اور نه نجات درکړي او کله چې د ماښام لمونځ وکړې، نو

۱. المعجم الصغير للطبراني - (۱ / ۲۷۱)
۲. سنن أبي داود-ن - (۴ / ۴۸۱)
۳. مونځ په رڼا د احادیثو کې، علامه عبدالسلام.

CamScanner

بیا خلکو سره د خبرو کولو نه مخکې اووه ځلې داسې دوایه:
اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ اللَّهُمَّ أَجِرْنِي مِنْ النَّارِ.

**یادونه:**
که چېرې په دې شپه مړ شوې، نو الله تعالی به د دوزخ له اور نه نجات درکړي.

۶) اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا وَعَمَلًا مُتَقَبَّلًا وَرِزْقًا طَيِّبًا.[۱]

ژباړه: ای الله جل جلاله زه له تا نه ګټور علم، حلاله روزي او قبول شوی عمل غواړم[۲].

۷) حَسْبِيَ اللَّهُ لا إِلَهَ إِلاَّ هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ

ژباړه: پوره دی ما لره الله تعالی، نشته هیڅوک مرستندوی غیر د هغه نه، پر هغه باندې ما ځان سپارلی او هغه مالک د عرش لوی دی

**ګټه:**
د ابو داود په روایت کې راغلي، چا چې دا کلیمات سبا او بېګاه اووه اووه ځلې ولوستل، نو الله تعالی به د هغه نه غمونه لرې کړي[۴].

۸) سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ.

ژباړه: پاکي ده الله جل جلاله لره سره د ثنا او ستاینې د هغه

**ګټه:**

---

۱. مسند أحمد - (۴۴ / ۱۴۰)
۲. یادونه: دا دعا به یواځې د سحر له لمانځه وروسته وایې، ماښام یې ویل نشته.
۳. [سورة التوبة ۹/۱۲۹]
۴. احسن الکلام ۴ج- ۵۸۵ مخ

CamScanner

حدیث کې راځي، چا چې سحر او ماښام دا ذکر سل سل ځلې ولوسته، نو د قیامت په ورځ به هیڅوک هم له ده نه غوره نه وي، مګر هغه څوک چې له ده څخه یې زیات لوستی وي.

رسول الله ﷺ ویلي: څوک چې دا کلیمه سل ځلې ووایي: لرې به کړای شي هغه نه ګناهونه د هغه، اګر که په شان د ځګ د سمندر وي[۱].

۹) أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ.[۲]

ژباړه: پناه غواړم د الله تعالی په کلیمو چې مکمل او بشپړې دي، له شر د مخلوق د هغه نه.

ګټه:

نبوي حدیث کې راغلي، چا چې دا کلیمات بېګاه کې درې ځلې ولوستل نو هیڅ څیز به ورته زیان ورنه کړي (دا دعا به یواځې بېګاه کې لولئ).

۱۰) د جنت خزانه:

لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ.[۳]

ژباړه: نشته دی ګرځېدل له ګناه نه او نه قوت د نېکۍ، مګر (د الله جل جلاله په توفیق).

ګټه:

رسول الله ﷺ ابی موسی اشعری رضي الله عنه ته ددې کلیماتو ښودنه کړې وه او د جنت له خزانو څخه یې یوه خزانه نومولې وه، خزانه ورته ځکه وایي چې ددې ویونکی خپل ځان او خپل کارونه الله

---

۱. نیل المرام فئ ترجم بلوغ المرام ۲ج-۴۵۷

۲. الدعا من الکتاب والسنة-۹۴مخ

۳. مسند الشافعي ترتیب السندي-(۰/ ۲۰۴)

تعالی ته حواله کوي.[1]

۱۱) (قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ۝ اللَّهُ الصَّمَدُ۝ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ۝ وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ۝.

ژباړه: ته ووايه هغه الله تعالی يو دی، الله تعالی بې حاجته دی، نه له ده نه څوک پيدا شوی او نه دی له چا نه پيدا شوی او نشته ده لره هم صفت هيڅوک.

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ۝ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ۝ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ۝ وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ۝ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ۝.

ژباړه: ته ووايه پناه غواړم په رب د ښکاره کولو سره، د شر د هغه څيزنه چې پيدا کړي دي هغه او د شر د تياري والا نه، هر کله چې تياري راوغوړوي او د شر د پوکيو کوونکو نه په غوټو کې او د شر د کينه کوونکي نه کله چې کينه ښکاره کړي.

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ۝ مَلِكِ النَّاسِ۝ إِلَهِ النَّاسِ۝ مِن شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ۝ الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ۝ مِنَ الْجِنَّةِ وَ النَّاسِ۝).

ژباړه: ته ووايه پناهي غواړم په رب د انسانانو، بادشاه د انسانانو، حقدارد بنده گۍ د انسانانو، د شر د وسوسو اچوونکي نه چې پټېدونکی دی، هغه چې وسوسې اچوي، په سينو د انسانانو کې، د پېريانو او د انسانانو نه.

۱. (نيل المرام فی ترجمة بلوغ المرام ۲ ج- ۴۲۰)

**ګټه:**

ابوداود کې د رسول الله ﷺ حدیث راغلی، چې څوک دا درې سورتونه سحر او ماښام درې درې ځلې ولولي، نو له هر څه نه به ورلره کافي او بسنه وکړي.[۱]

**۱۲**) سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ عَدَدَ خَلْقِهِ وَرِضَا نَفْسِهِ وَزِنَةَ عَرْشِهِ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ.[۲]

ژباړه: پاکي ده الله تعالی لره سره د ستاینې د هغه، په اندازه د مخلوقاتو د هغه، په اندازه د رضا د نفس د هغه، په اندازه د وزن د عرش د هغه او په اندازه د سیاهې د خبرو د الله جل جلاله.

**ګټه:**

جویریه د حارث لور رضي الله تعالی عنها د سحر لمونځ وکړ، بیا په خپله مصلی (د لمانځه پر ځای) باندې ناسته وه، چې رسول الله ﷺ له ډېر وخت نه وروسته راغی، جویریه رضي الله عنها یې چې په دې حالت کې ولیده، نو د پورتني ذکر د ویلو لارښوونه یې ورته وکړه. (دا ذکر به یوازې سحر کې درې ځلې وایئ).

**۱۳) لس ځلې سحر او لس ځلې بېګاه کې درود ویل:**

اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ الأُمِّيِّ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ.[۳]

ژباړه: ای الله جل جلاله! رحمت راولېږه پر محمد صلی الله علیه وسلم باندې، چې امي پیغمبر دی او د هغه پر آل (اولاده) باندې

۱. (تفسیر ابن اکثیر ۲ج-۵۷۵)
۲. سنن أبی داود-ن- (۱/ ۵۵۲)
۳. مستند مسنون – ۲۱۴مخ.

CamScanner

**ګټه:**

رسول اللهﷺ ویلي: څوک چې پر ما لس ځلې سحر، لس ځلې بېګاه درود ولولي، نو د قیامت په ورځ زما شفاعت ده لره لاندې کړي

**۱۴**) رَضِيتُ بِاللَّهِ رَبًّا وَبِالإِسْلاَمِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا.[۱]

ژباړه: زه راضي یم، د الله جل جلاله په رب کېدلو باندې او د اسلام په دین کېدلو باندې او د محمد ﷺ په نبي کېدلو باندې

**ګټه:**

حدیث کې راغلي: څوک چې دا دعا سبا او بېګاه ولولي پر الله تعالی باندې دا ذمه ده، چې د قیامت په ورځ به دغه انسان راضي کوي، همدا راز رسول اللهﷺ ویلي: څوک چې دا ذکر سبا کې ولولي، زه ذمه واریم چې دا به له لاسه نه نیسم او جنت ته به یې ننباسم

**یادونه:**

ځینو روایتونو کې یې درې ځله او ځینو کې یې یو ځل لوستل یاد شوي، صحیح دا ده چې یو ځل ولوستل شي.

**د ویده کېدلو پر مهال ذکرونه او دعاګانې:**

**۱۵**) امام ابو داود حدیث نقل کړی: کله به چې رسول اللهﷺ د ویده کېدلو اراده وکړه، نو ښی لاس به یې د اننګي لاندې کېښود بیا به یې درې ځلې وویل: اللَّهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ.[۲]

ژباړه: ای الله! ما د خپل عذاب نه وساته، په کومه ورځ چې ته دوباره بنده ګان ژوندي کوې.

---

۱. المعجم الکبیر للطبراني - (۵ / ۱۲۲)

۲. المعجم الکبیر للطبراني - (۸ / ۴۹۱) – مستند مسنون، ۲۲.

CamScanner

**۱۶) تسبیحات فاطمه رضی الله تعالی عنها:**

سُبْحَانَ اللّٰهِ- پاکي ده الله لره- ۳۳ ځلې.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ- ثنا ده الله لره- ۳۳ ځلې.

اَللّٰهُ أَكْبَرُ- الله ډېر لوی دی- ۳۴ ځلې.

**ګټه:**

فاطمې رضي الله عنها رسول الله ﷺ نه خادم غوښتی و، رسول الله ﷺ علي رضي الله تعالی عنه او فاطمې رضي الله تعالی عنها ته د خادم په ځای بسترې ته د ورتګ پرمهال دا تسبیحات وښودل او ورته یې وویل: دا تاسې ته د خادم نه ډېر غوره دي.

یو صحیح حدیث کې راغلي: په دې باندې زړ نېکۍ ورکول کېږي، علي رضي الله عنه ویلي: ما دا تسبیحات د صفین په جنګ کې هم نه دي پرېښي.[1]

**۱۷) د ویده کېدلو پرمهال دعا:**

اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوتُ وَأَحْيَا.[2]

ژباړه: ای الله! ستا په نوم مړ کېږم او ژوندی کېږم.

**۱۸) د شپې پرمهال بستر باندې د اړخ بدلولو دعا:**

لَاإِلٰهَ إِلَّااللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ رَبُّ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ.[3]

ژباړه: نشته حقدار د بنده ګۍ پرته له الله نه، یو اځې دی زورور

---

۱. حصن المسلم – ۲۱مخ.
۲. شعب الإیمان - (۴ / ۱۷۴)
۳. حصن المسلم – ۲۵مخ.

دی، رب د اسمانونو او د ځمکې او د هغه څه چې د دوی په منځ کې دي، غالب دی ښښونکی دی.

**ګټه:**

عائشې رضي الله عنها ویلي: کله به چې رسول الله ﷺ د شپې پر مهال د یو اړخ نه بل اړخ ته اوړېده، نو دا دعا به یې ویله. (حصن المسلم)

**۱۹) له خوب نه د ویښېدلو دعا:**

اَلْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِی أَحْیَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَیْهِ النُّشُورُ.[۱]

ژباړه:

شکر دی هغه الله لره، چې یې موږ ژوندي کړو وروسته له مرګ (خوب) زموږ نه او د هغه لور ته زموږ ورپورته کېدل دي.

**۲۰) خوب کې د وېرېدلو دعا:**

أَعُوذُ بِکَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّةِ مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ وَشَرِّ عِبَادِهِ وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّیَاطِینِ وَأَنْ یَحْضُرُونِ.[۲]

ژباړه: پناه غواړم په کلیمو د الله جل جلاله چې پوره دي، د غضب د هغه نه، د عذاب د هغه نه، د شر د بنده ګانو د هغه نه، له وسوسو د شیطانانو نه او له دې نه چې راشي دوی ما ته.

**ګټه:**

یو سړي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته شکایت وکړ، چې خوب کې وېرېږم، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: کله چې شپه کې بستر ته ورځې، نو دا دعا وایه، هغه سړي دا دعا

---

۱. سنن أبی داود - ن - (۴ / ۴۷۱)

۲. موطاء مالک - (۵ / ۱۳۸۲) زادالمعاد - بیروت چاپ ۳۲۹ مخ ابن کثیر بیروت چاپ - ۴۹۲ مخ - څلورم جلد.

عملي کړه، بيا خوب کې نه ويرېده.

د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه دستور و، چې اولادونو کې به يې يو د هوښيارۍ مرحلې ته رسېده، نو دا دعا به يې ورته ښودله او کوم به چې کوچني وو، دعا به يې نه شوه يادولی، نو هغوی ته به يې دا دعا په غاړه کې ځوړندوله. صحابه کرام وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم به د خوب د تښتېدلو مرض د لرې کولو لپاره هم دا دعا مور ته ښودله.

**۲۱) د جامو د اغوستلو دعا:**

اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ كَسَوْتَنِيهِ أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِهِ وَخَيْرِ مَا صُنِعَ لَـهُ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ.[۱]

ژباړه: ای الله جل جلاله! تا راته دا جامه واغوستله، پس تا لره صفتونه د کمال دي، زه له تانه غواړم خير د دې جامې او هغه خير چې دا جامه ورته جوړه ده او پناه غواړم په تا باندې د شر د دې نه او له هغه شر نه چې دا جامه ورته جوړه ده.

**يادونه:** رسول الله صلی الله عليه وسلم به چې کله نوې جامې (کالي، څادر، پګړۍ او نور...) اغوستلې، نو د هغې نوم به يې اخيسته او بيا به يې پورته دعا ويله.

**۲۲) د جامو د مبارکۍ ورکولو دعا:**

اِلْبَسْ جَدِيدًا ، وَعِشْ حَمِيدًا ، وَمُتْ شَهِيدًا.[۲]

ژباړه: واغونده نوې، ژوند تېر کړه ستايل شوی او مړ شه شهيد.

۱. سنن أبی داود-ن- (۴/ ۷۴)

۲. المعجم الکبير للطبراني - (۱۰/ ۴۲۵)

**ګټه**: رسول الله ﷺ عمر الفاروق رضي الله عنه ته د نویو جامو له اغوستلو سره دا دعا کړې وه.

**۲۳) بیت الخلا ته د ننوتلو دعا**:

اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ.(۱)

ژباړه: زه پناه غواړم په تا د پلیتۍ او شیطانانو نه.

**۲۴) بیت الخلا نه د وتلو دعا**:

غُفْرَانَكَ.(۲)

ژباړه: ای الله جل جلاله! ستا نه د بښنې سوال کووم.

**ګټه**: دا صحیح حدیث دی، رسول الله ﷺ به د بیت الخلا نه د وتلو په وخت کې همدا دعا ویله

**۲۵) آیینه (هینداره) کې د مخ کتلو دعا**:

اَللّٰهُمَّ كَمَا حَسَّنْتَ خَلْقِيْ فَحَسِّنْ خُلُقِيْ.(۳)

ژباړه: ای الله جل جلاله! څرنګه چې تا ښکلی کړی دی پیدا ایښت زما، نو ښه او ښکلی کړه اخلاق زما.

**ګټه**:

دا صحیح حدیث دی، رسول الله ﷺ امت ته د تعلیم ورکولو په موخه ددې لپاره دا دعا ښودله، چې امتیان یې د صورت د ښکلا په څنګ کې د سیرت ښکلا ته هم پاملرنه وکړي.(۴)

۱. الأدب المفرد بالتعلیقات - (۱/ ۱۲۵) - زاد المعاد ۳۰۴مخ بیروت.
۲. الأدب المفرد بالتعلیقات - (۱/ ۱۲۵) - زاد المعاد ۳۰۵مخ بیروت
۳. الطبقات الکبری لابن سعد - (۱/ ۳۷۷)
۴. (نیل المرام فی ترجمة بلوغ المرام ۲ج-۴۵۳مخ).

CamScanner

**۲۶) جومات ته د ننوتلو دعا:**

أَعُوذُ بِاللَّهِ الْعَظِيمِ وَبِوَجْهِهِ الْكَرِيمِ وَسُلْطَانِهِ الْقَدِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ.(۱)

اَللَّهُمَّ افْتَحْ لِيْ أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ.(۲)

ژباړه:

ای الله! پرانیزه ماته دروازې د رحمت ستا.

**۲۷) جومات نه د وتلو دعا:**

اَللَّهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ.(۳)

ژباړه:

ای الله! له تا څخه د مهربانی سوال کوم.

اَللَّهُمَّ اعْصِمْنِي مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ.(۴)

ژباړه:

ای الله ما له شیطان رټلي شوي څخه وساتې.

**۲۸) د اذان نه وروسته دعا:**

اَللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِحَقِّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلاةِ الْقَائِمَةِ آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا، الَّذِي وَعَدْتَهُ إِنَّكَ لاَ تُخْلِفُ الْمِيعَادَ.(۵)

ژباړه: ای الله جل جلاله! ددې پوره دعوت او لمونځ ودرېدونکي

---

۱. سنن أبی داود-ن-(۱/ ۱۷۵)
۲. السنن الصغری-(۱/ ۱۲۲)
۳. السنن الصغری-(۱/ ۱۲۲)
۴. مسند الصحابة في الکتب الستة-(۲/ ۲۲۲)
۵. السنن الصغری-(۱/ ۱۰۱)

په حق درنه سوال کوم، چې محمد صلی الله علیه وسلم ته وسیله، مقام او غوره والی ورکړه او هغه مقام محمود ته یې ولېږه، چې تا ورسره وعده کړې ده، ځکه ته د وعدې خلاف نه کوې

**یادونه**: د اذان نه وروسته درود ویل هم په صحیح احادیثو کې راغلي دي، درود نه وروسته به پورتنی دعا لولئ.

**۲۹) د سَحَر د سنتو نه وروسته دعا:**

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ فِي قَلْبِي نُورًا وَفِي بَصَرِي نُورًا وَفِي سَمْعِي نُورًا وَعَنْ يَمِينِي نُورًا وَعَنْ يَسَارِي نُورًا وَفَوْقِي نُورًا وَتَحْتِي نُورًا وَأَمَامِي نُورًا وَخَلْفِي نُورًا وَاجْعَلْ لِي نُورًا.(۱)

ژباړه: ای الله جل جلاله! ته وګرځوه زما په زړه کې رڼا او په سترګو کې مې رڼا او په غوږ کې مې رڼا او ښي لور ته مې رڼا او کیڼ لور ته مې رڼا او د پاسه مې رڼا او د لاندې مې رڼا او مخکې مې رڼا او شاته مې رڼا او وګرځوې رڼا زما لپاره.

**ګټه**: رسول الله ﷺ به دا دعا له سنتو نه وروسته کوله او سجده کې به یې هم لوستله

**۳۰) د تکبیر تحریمې وروسته دعا:**

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيرًا، طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ.(۲)

ژباړه: ټول صفتونه الله تعالی لره دي، صفتونه ډېر، پاک، چې برکت پکې اچول شوی دی.

**ګټه**:

دا دعا د الله اکبر وروسته د سبحانک اللهم پر ځای لوستل کېږي.

---

۱. صحیح البخاري ت - (۱۲ / ۵۸)
۲. الأدب المفرد بالتعلیقات - (۱ / ۱۲۵)

CamScanner

رسول الله ﷺ ویلي، ددې کلیماتو پورته کولو لپاره دولس ملائکې راغې او په ډېرې جلتۍ سره یې پورته کوي.

**۳۱) د رکوع او سجدې دعاګانې:**

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْلِي.(۱)

ژباړه: پاکي ده تا لره ای الله ﷻ! چې رب زمونږ یې سره د ستاینې ستا نه، ای الله ﷻ! ماته بښنه وکړې.

سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ الْمَلاَئِكَةِ وَالرُّوحِ.(۲)

ژباړه: پاک دی الله تعالی، چې رب د پرښتو او د جبرائیل علیه السلام دی.

**یادونه:** دا دعا په رکوع او سجده دواړو کې لوستل کېږي.

**۳۲) د دوو سجدو دعا:**

اللَّهُمَّ اغْفِرْلِیْ وَارْحَمْنِیْ وَعَافِنِیْ وَاهْدِنِیْ وَارْزُقْنِیْ.(۳)

ژباړه: ای الله ﷻ! ماته بښنه وکړې او پر ما باندې رحم وکړې او ماته هدایت وکړې او ما جوړ کړې او ماته روزي راکړې.

**یادونه:** د نبوي احادیثو له مخې فرض لمانځه کې هم دا دعا لوستل کېږي، امام احمد بن حنبل رحمه الله ددې دعا لوستل په ټولو لمونځونو کې واجب بولي.

**۳۳) د سجده تلاوت دعا:**

سَجَدَ وَجْهِی لِلَّذِیْ خَلَقَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ بِحَوْلِهِ وَقُوَّتِهِ.(۴)

---

۱. صحیح البخاري ت - (۲ / ۲۰۴)
۲. صحیح مسلم - (۲ / ۵۱)
۳. سنن أبی داود -ن - (۱ / ۳۱۲)
۴. سنن أبی داود -ن - (۱ / ۵۳۲)

ژباړه: سجده وکړه مخ زما هغه ذات ته، چې پيدا کړی يې دی، غوږ او سترګې يې ورته ښکلي دي، په خپل قوت او طاقت سره.

**۳۴) د تشهد او درود ويلو نه وروسته دعا:**

اَللّٰهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا، وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ، فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ، وَارْحَمْنِي إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ.[1]

ژباړه: ای الله جل جلاله ! ما ظلم کړی پر خپل ځان او نه بښي ګناهونه مګر ته، نو بښنه وکړې ما ته داسې بښنه، چې ستا له طرفه وي او رحم وکړې پر ما، ځکه چې ته ښونکی او مهربان يې.

**يادونه:**

ابوبکر صديق رضي الله عنه رسول الله ﷺ څخه غوښتنه کړې وه، چې يوه داسې دعا راته وښايه، چې لمانځه کې يې وايم، رسول الله ﷺ ورته دا دعا ښودلې وه، دا دعا د لمانځه وروستنۍ ناسته کې د درود وروسته ويل کيږي.

**۳۵) د سلام ګرځولو وروسته اذکار او دعاګانې:**

أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ درې ځلې.

ژباړه: له الله تعالی نه بښنه غواړم.

اَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ ، وَمِنْكَ السَّلَامُ ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالإِكْرَامِ.[2]

ژباړه: ای الله جل جلاله ! ته سلام يې او ستا له طرف نه سلامتيا ده، برکتونو والايې، ای خاونده د لويي او د عزته.

---

۱. السنن الصغری - (۱ / ۱۵۳)

۲. صحيح مسلم-ن - (۱ / ۴۱۴)

**۳۶) له رکوع وروسته دعا:**

رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ.[۱]

ژباړه: ای الله تا لره د کمال صفتونه دي، صفتونه ډېر ډېر او پاک، چې برکت پکې اچول شوی وي.

**تنبیه:**

رسول اللهﷺ ویلي: ددې کلیماتو پورته کولو لپاره څه دپاسه دېرش پرښتې راځي او په ډېرې جلتۍ سره یې پورته کوي، هره یوه دا هڅه کوي چې لومړی یې ولیکي.

**۳۷) د آذان مسنون ځواب:**

سنت طریقه دا ده، چې د اذان اورېدونکی به هغه کلیمات وایي، کوم چې مؤذن یې وایي، یوازې د (حَيَّ عَلَى الصَّلاةِ) او (حَيَّ عَلَى الْفَلاحِ) ځواب کې به (لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ).[۲]

**۳۸) د وتر د سلام ګرځولو وروسته ذکر:**

رسول اللهﷺ به د وترو کې (سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الأَعْلَى) (قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ) او (قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ) لوستل، د سلام وروسته به یې درې ځلې (سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ) وویل، په دریم ځل به یې غږ پورته کاوه او په لوړ غږ به یې ویل: (رَبِّ الْمَلاَئِكَةِ وَالرُّوحِ).[۳]

**۳۹) د نوې میاشت د لیدلو دعا:**

اَللَّهُمَّ أَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالْيُمْنِ وَالْإِيمَانِ وَالسَّلَامَةِ وَالْإِسْلَامِ رَبِّي

۱. صحیح البخاري ت-(۲ / ۲۰۹)
۲. مسند الشافعي ترتيب السندي-(۰ /۲۰۴)
۳. (حصن المسلم ۷۰)

وَرَبُّكَ اللَّهُ.[۱]

ژباړه: ای الله جل جلاله! راوخېژوه دا میاشت په موږ باندې په برکت، ایمان، سلامتیا او اسلام کې، رب زما او رب ستا الله دی.

**۴۰) د خوراک څښاک دعاګانې:**

بِسْمِ اللَّهِ.

**يادونه:** د خوراک د پیل پر مهال همدومره الفاظ ثابت دي.

د خوراک د پیل کولو وخت کې، د پوره (بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ) ثبوت احادیثو کې نشته.

همدارنګه (بِسْمِ اللَّهِ وَعَلَى بَرَكَةِ اللَّهِ) هم حدیث کې نشته.

که بسم الله د خوراک پیل کې له چا نه هېره شي او د خوراک منځ کې ورته یاده شي، نو بیا دې ووایي: (بِسْمِ اللَّهِ فِي أَوَّلِهِ وَآخِرِهِ).[۲]

**۴۱) د خوراک نه وروسته دعا:**

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِى أَطْعَمَنِى هَذَا الطَّعَامَ وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّى وَلاَ قُوَّةٍ.[۳]

ژباړه: ټولې ستاینې هغه الله لره دي، چې رایې کړ ماته دا خواړه او روزي يې کړ زما، بې له قوت او کوښښ زما څخه.

**ګټه:**ددې دعا له لوستلو سره به مخکیني وروستني ګناهونه وبښل شي.

۱. مسند الصحابة في الكتب الستة - (۴۲ / ۳۹۳)

۲. المعجم الكبير للطبراني - (۹ / ۱۴) - زاد المعاد ۳۰۸مخ - بیروت چاپ

۳. سنن أبى داود - ن - (۴ / ۷۴)

**۴۲) له اوبو څښلو څخه وروسته دعا:**

(اَلْحَمْدُ لِلَّهِ) ژباړه: ټولې ستاينې خاص الله جل جلاله لره دي

دا دعا هم ويلای شئ:

اَلْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِى أَطْعَمَ وَسَقَى وَسَوَّغَهُ وَجَعَلَ لَهُ مَخْرَجًا.[1]

ژباړه: ټولې ستاينې خاص الله جل جلاله لره دي، چې خوراک څښاک يې راکړ او تېر يې کړ زما او لاره د وتلو يې ورته وګرځوله

**يادونه:**

دا دعا د خوراک کولو وروسته هم ويل کېږي

**۴۳) جومات کې د ورک شوي څيز تلاش کوونکي ته داسې خيره وکړه:**

لاَ رَدَّ اللَّهُ عَلَيْكَ.[2]

ژباړه:

الله تعالی دې تاته، تا نه ورک شوی څيز بېرته په لاس در نه کړي

همدا رنګه څوک چې په جومات کې اخيستل خرڅول کوي، هغه ته دا دعا کول پکار دي:

لاَ أَرْبَحَ اللَّهُ تِجَارَتَكَ.[3]

ژباړه:

الله تعالی دې تاته ستا تجارت کې ګټه در نه کړي

---

۱. سنن أبي داود-ن- (۳ / ۴۳۲)

۲. سنن ابن ماجه - (۱ / ۲۵۲)

۳. السنن الكبرى للبيهقي ط المعارف بالهند - (۲ / ۴۴۷)

**۴۴، د روژه ماتي پرمهال لومړۍ دعا**

ذَهَبَ الظَّمَأُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوقُ وَثَبَتَ الأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ[1]

ژباړه: تنده لاړه، رګونه لامده شو او ثواب ان شاءالله ثابت شو.

**۴۵، بازار ته د ننوتلو دعا:**

لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ، وَهُوَ حَيٌّ لا يَمُوتُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ.[2]

ژباړه: نشته لایق د بنده ګۍ پرته له الله نه، یو دی، شریک یې نشته، خاص هغه لره بادشاهي ده او هغه لره صفتونه د کمال دي او هغه ژوندی دی، نه مري، په لاس د هغه کې خیر دی او هغه په هر څه قدرت والا دی.

**ګټه:** حدیث کې راځي، چا چې دا دعا ولوستله، نو الله تعالی به هغه لره لس لکه نیکۍ ولیکي، لس لکه ګناهونه به یې وبښل شي، لس لکه درجې به یې اوچتې شي او په جنت کې به ورته یو کور اباد کړای شي.

**۴۶، د استخارې دعا:**

اَللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيمِ فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا أَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلَا أَعْلَمُ وَأَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي أَوْ قَالَ عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ فَاقْدُرْهُ لِي وَيَسِّرْهُ لِي ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي أَوْ قَالَ فِي عَاجِلِ

---

۱. السنن الکبری للبیهقي. ط المعارف بالهند - (۴ / ۲۳۹)

۲. سنن الترمذي - (۵ / ۴۹۱)

أَمْرِي وَآجِلِهِ فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفْنِي عَنْهُ وَاقْدُرْ لِي الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ أَرْضِنِي بِهِ.[1]

ژباړه: اې الله ! زه طلب د خير کوم ستانه، ستا په علم باندې او قدرت، طلب کوم تا نه ستا په قدرت او غواړم ستا لويه مهرباني، ځکه ته طاقت والا يې او زه طاقت والا نه يم او ته پوهېږې او زه نه پوهېږم او ته پوه يې په پټو شيزونو. اې الله که چېرې تاته معلومه وي، چې دا کار زما لپاره غوره دی، په دين او دنيا زما کې او د انجام په لحاظ اوس، او په وروسته زمانه کې، پس مقرر يې کړه مالره او بيا برکت واچوه مالره په دې کې او که چېرې تاته پته وي. چې دا کار شر دی مالره، په دين او دنيا زما کې او په انجام د کار زما کې، که اوس وي او که وروسته زمانه کې، نو دا کار واړوه زما نه او ما واړوې د هغې نه او مقرر کړه مالره خير چېرته چې وي بيا مې په دې خوشاله کړه.

**ګټه:**

د استخارې دعا به رسول الله صلی الله عليه وسلم خپلو صحابه کرامو ته په ډېر ټينګار سره ښودله؛ لکه څرنګه چې د قرآنکريم يو سورت به يې دوی ته ښودلو او دا به يې ويل: کله چې يو کس په تاسې کې د يو کار اراده وکړي، که هغه د دنيا کار وي او که د دين وي، نو دوه رکعته لمونځ دې وکړي او بيا دې دا دعا ولولي.

**۴۷) د غم- خپګان پرمهال دعاګانې:**

يَا حَيُّ، يَا قَيُّومُ، بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ.[2]

---

۱. صحيح البخاري.
۲. المعجم الصغير للطبراني - (۱ / ۲۷۱)

ژباړه:
ای ژوندی ذاته! ای تدبیر کوونکیه، ستا په رحمت زه مرسته غواړم.

**۴۸) د یونس علیه السلام دعا:**

لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِيْنَ[۱]

ژباړه:
نشته فریاد قبلوونکی پرته له تانه، پاک یې ته، یقینا زه یم له نقصان کوونکو نه د ځان سره.

**۴۹) د دښمن یا ظالم بادشاه نه د وېرې پرمهال دعا:**

حَسْبُنَا اللهُ، وَنِعْمَ الْوَكِيلُ[۲]

ژباړه: بس دی موږ لره الله او ښه کارساز دی.

**ګټه:**

عبد الله بن عباس رضی الله تعالی عنه وایي: دا دعا ابراهیم علیه السلام هغه مهال ویلې وه، کله چې اور ته وغورځول شو، رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو هغه مهال ویلې وه، کله چې د اُحُد د تاریخي غزا په ورځ له دښمنانو نه ورته د وېرې احساس ورکول شو.

**۵۰) د ماشوم د دمولو دعا:**

أُعِيذُكُمَا بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّـةٍ، وَمِـنْ كُـلِّ

---

۱. الأحاديث المختارة للضياء المقدسي - (۲ / ۲۱) - ابن کثیر - ۳۸۷مخ بیروت - څلورم جلد.

۲. المعجم الصغير للطبراني - (۱ / ۵۰)

عَيْنٍ لامَّةٍ.(۱)

ژباړه: پناه غواړم تاسو دواړو لره، په کلماتو د الله تعالى چې پوره دي د هر شيطان نه او د هر ضرري حيوان نه او له هرې سترګې نه چې را جمع کوونکې ده شر لره.

**یادونه**: رسول الله صلى الله عليه وسلم به خپل دواړه ګران لمسي حسن او حسين رضى الله تعالى عنهم په دې دعا سره دمول.

**۵۱) د ناروغۍ له درد څخه د شکايت پرمهال دعا**:

(بِسْمِ اللَّهِ) به درې ځلې وو ايئ او بيا به اووه ځلې دا دعا ولولئ:

أَعُوذُ بِاللَّهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرُ.(۲)

ژباړه: زه پناه غواړم په الله سره او دده په قدرت سره، له شر د هغه څه څخه، چې زه يې مومم او وېره ورڅخه لرم.

**یادونه**: ناروغ به د دعا ويلو پرمهال خپل لاس د بدن پر خوږمن ځاى باندې کېږدي.

**۵۲) ناروغ ته دعا**:

لَا بَأْسَ طَهُورٌ إِنْ شَاءَ اللَّهُ.(۳)

ژباړه: باک نشته دا ناروغي پاکوونکې ده، ستا ګناهونو لره ان شاءالله.

**ګټه**:

رسول الله صلى الله عليه وسلم به د ناروغ پوښتنې پرمهال دا دعا ويله.

۱. المعجم الصغير للطبراني - (۲/ ۳۱)
۲. صحيح مسلم - (۷/ ۲۰)
۳. صحيح البخاري ت - (۹/ ۱۴۲)

CamScanner

**۵۳، د ناروغ د دمولو دعا:**

بِاسْمِ اللّٰهِ أَرْقِيْكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ أَوْ عَيْنِ حَاسِدٍ اللّٰهُ يَشْفِيكَ بِاسْمِ اللّٰهِ أَرْقِيْكَ.[1]

ژباړه: په نوم د الله دې دموم د هر هغه څيز نه چې تا ته تکليف در رسوي، د هر نفس د شر نه، يا د کينه ګر د سترګو لګولو نه، الله دې شفاء درکړي؛ په نوم د الله دې دموم.

**يادونه:** رسول الله صلی الله عليه و سلم ناروغ و، جبرائيل عليه والسلام ورته راغی ويې ويل: ای محمد صلی الله عليه وسلم! ناروغ يې؟

هغه وويل: هو! نو جبرائيل عليه السلام پرې دا دم واچوه.

**۵۴، د ژوند نه د ناهيلي توب پرمهال دعا:**

اَللّٰهُمَّ أَحْيِنِى مَا كَانَتْ الْحَيَاةُ خَيْرًا لِيْ ، وَتَوَفَّنِيْ إِذَا كَانَتِ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِيْ ).[2]

ژباړه: ای الله جل جلاله! ته ما ژوندی وساته، که ژوند زما لپاره غوره وي او مرګ راکړې ما لره، که مرګ زما لپاره غوره وي.

**يادونه:**

نبوي احاديثو کې د تکليف پرمهال د مرګ غوښتنې له دعا څخه منع شوې ده، که څوک خامخا دعا کوي، نو بيا دې پورتنۍ دعا لولي.

---

[1] مسلم - (۷/ ۱۳)، مستند مسنون (۱۱۴صفحه)

[2] بخاري-ن - (۵/ ۲۱۴۲)

## ۵۵، د جنازې د لمانځه دعاګانې

اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ وَعَافِهِ وَاعْفُ عَنْهُ وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَنَقِّهِ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ وَأَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهِ وَأَهْلاً خَيْرًا مِنْ أَهْلِهِ وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهِ وَأَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ وَأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ أَوْ مِنْ عَذَابِ النَّارِ.(۱)

ژباړه: ای الله بښنه وکړې ده ته او رحم پرې وکړې او معافي وکړې ده ته او ښه کړه مېلمستیا دده او پراخه کړه ځای دده او ووینځه دا په اوبو، واوره او ږلۍ باندې او پاک کړه دا د ګناهونو نه؛ لکه څنګه چې تا سپینه جامه له خیرې نه پاکه کړې ده او په بدل کې ورکړه کور غوره د کور دده نه او اهل غوره د اهل دده نه او ښځه غوره د ښځې دده نه او جنت ته یې داخل کړه او وساته دا د عذاب د قبر او د عذاب د اور نه.

یا دا چې:

اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِيرِنَا وَكَبِيرِنَا وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا، اللَّهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الإِسْلاَمِ، وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الإِيمَانِ. اللَّهُمَّ لاَ تَحْرِمْنَا أَجْرَهُ وَلاَ تُضِلَّنَا بَعْدَهُ.(۲)

ژباړه:

ای الله! بښنه وکړې ژوندیو زموږ ته او مړو زموږ ته، حاضرینو او غائیبیونو زموږ ته او وړو او غټو زموږ، نارینه او ښځینه وو زموږ ته.

---

۱. صحیح مسلم - (۳ / ۵۹)
۲. السنن الکبری للبیهقي. ط المعارف بالهند - (۴ / ۴۱) مستند مسنون (۱۲۳ صفحه)

اى الله! څوک چې ته ژوندى ساتې زموږ نه، ژوندى يې وساته پر اسلام باندې او چاته چې مرګ ورکوې زموږ نه، نو مرګ ورکړه په ايمان سره.

اى الله! تـه مـوږ مـه محرومـوه ددهٔ د اجـر نـه او مـوږ دده نـه. وروسته مه بې لارې کوه.

**۵۶) د مړي د سپارلو دعا:**

بِسْمِ اللَّهِ وَعَلَى مِلَّةِ رَسُولِ اللَّهِ.(۱)

ژباړه: په نوم د الله دې ږدم او په دين يا سنت د رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې.

**۵۷) د قبرونو د زيارت پرمهال دعا:**

اَلسَّلَامُ عَلَى أَهْلِ الدِّيَارِ مِنَ الْمُـؤْمِنِينَ وَالْمُسْـلِمِينَ وَيَـرْحَمُ اللَّـهُ الْمُسْتَقْدِمِينَ مِنَّا وَالْمُسْتَأْخِرِينَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللَّهُ بِكُمْ لَلَاحِقُونَ.(۲)

ژبـاړه: سـلام دې وي ددې کورونـو پـه اوسېدونکو مؤمنـانو او مسـلمانانو، الله دې رحـم وکـړي پـه مخکـې تلونکـو او وروسـتو تلونکـو زمـوږ بانـدې او يقينـاً مـونږ ان شـاءالله تاسـو سـره ضـرور يوځاى کېدونکي يو.

**ګټه:**

د قبرونو زيارت کې څلور ګټې دي:

۱-مړو لپـاره ښـنـه غوښـتل. ۲-دنيـا کـې تزهيـد، يـانې لـه دنيـا سره د مينـې کمېدل. ۳-د اخرت ياد او هغـې سره مينه پيدا کېدل

---

۱. سنن ابن ماجه - (۱/ ۴۹۴)

۲. صحيح مسلم - (۳/ ۲۴)

۴- مرګ یادېدل
له دې یادو شویو هدفونو پرته، نورو هدفونو لپاره زیارتونه کول شرعا منع دي.

**۵۸) له قرض (پور) نه د خلاصي دعا:**

اَللّٰهُمَّ اكْفِنِي بِحَلَالِكَ عَنْ حَرَامِكَ وَأَغْنِنِي بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ.[۱]

ژباړه:
ای الله! ته زما بسنه وکړې په حلالو ستا باندې له حرامو ستا نه او بې پروا کړې ما په خپلې مهربانۍ سره له هغه چا نه چې پرته له تانه دي.

**۵۹) د باران غوښتلو دعا:**

اللّٰهُمَّ اسْقِنَا اللّٰهُمَّ اسْقِنَا اللّٰهُمَّ اسْقِنَا.[۲]

ژباړه:
ای الله! موږ خړوبه کړې. ای الله! موږ خړوبه کړې. ای الله! موږ خړوبه کړې.

**۶۰) د باران د پیل کېدلو پرمهال دعا:**

اللّٰهُمَّ صَيِّبًا نَافِعًا.[۳]

ژباړه: ای الله د ډېر باران وکړې او ګټور یې وګرځوې.
**ګټه:** رسول الله صلی الله علیه وسلم به دا دعا ویله.

**۶۱) د باران د ودرېدلو دعا:**

اللّٰهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا اللّٰهُمَّ عَلَى الْآكَامِ وَالظِّرَابِ وَبُطُونِ الْأَوْدِيَةِ

---

۱. مسند احمد -(۲ / ۴۳۸)
۲. صحیح البخاري ت -(۲ / ۴۲۷)
۳صحیح البخاري ت -(۲ / ۴۴۷)

CamScanner

وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ.[۱]

ژباړه: یا الله ! زموږ کبر چاپېره یې وکړه او پرموږ یې مه کوه. ای الله په دېرکو، په کندو او پر ځایونو د راټوکېدلو د ونو او بوټو یې وکړه.

**۶۲) سفر ته د تلونکي د رخصتولو پرمهال دعا:**

أَسْتَوْدِعُ اللَّهَ دِيْنَكَ وَأَمَانَتَكَ وَخَوَاتِيمَ عَمَلِكَ.[۲]

ژباړه: زه سپارم الله ته دین ستا او امانت ستا او اخري عملونه ستا.

**یادونه:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله څوک رخصتاوه، د هغه لاس به یې ونیوه مصافحه به یې ورسره وکړه او دا دعا به یې ورته وکړه.

**۶۳) د سورلۍ دعا:**

لومړی به (بِسْمِ اللّٰهِ)، بیا (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ) بیا به:
سُبْحَانَ الَّذِيْ سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِيْنَ ۝.[۳]
سُبْحَانَكَ إِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ ۝.[۴] ووایي.

یا دا چې: لومړی به دا ایتونه ولولي (سُبْحَانَ ٱلَّذِى سَخَّرَ لَنَا هَـٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ ۝ وَإِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ ۝)[۵]

---

۱. صحیح البخاري ت - (۲ / ۴۲۹)
۲. سنن أبي داود - (۲ / ۳۹) مستند مسنون (۱۴۴ صفحه)
۳. الأحادیث المختارة للضیاء المقدسي - (۱ / ۳۵۹)
۴. سنن أبی داود-ن- (۲ / ۳۳۹)
۵. القرآن- سورة الزخرف – ۱۳ و ۱۴ ایاتونه.

ژباړه: پاکي ده هغه ذات لره، چې تابع ګرځولې ده موږ لپاره دا او نه وو موږ دې لره قابو کوونکي او یقیناً موږ خپل رب طرف ته خامخا به وا پس ور ګرځو.

بیا به درې ځلې (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ)، بیا به درې ځلې (اَللّٰهُ أَكْبَرُ) او بیا به (سُبْحَانَكَ إِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ).[1] وایي.

**یادونه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله سورلۍ ته پورته کېده، نو بسم الله به یې وویله او بیا به یې پورته لیکل شوې دعاګانې په ترتیب سره لوستلې.

**۶۴) د سفر نه د راستنېدلو پرمهال چې کور ته ننوځې:**

تَوْبًا تَوْبًا لِرَبِّنَا أَوْبًا لَا يُغَادِرُ عَلَيْنَا حَوْبًا.[2]

ژباړه: موږ توبه وباسو، موږ توبه وباسو خپل رب ته او راګرځو هغه طرف ته، چې پرېنږدي پر موږ باندې ګناه.

**۶۵) کله چې چاته څه ډالۍ ورکړې او هغه تاته دعا وکړي، نو ته به هم هغه ته هماغه شان دعا کوې.**

**یادونه**: حدیث کې راځي، عائشې رضی الله تعالی عنها به چې کله د چا کور ته د صدقې په ډول څه څیز ولېږه، نو له خپل خدمتګار نه به یې پوښتنه وکړه، چې موږ ته یې څه دعا وکړه، بیا به هماغسې دعا ورته د مؤمنانو مور (عائشې رضی الله تعالی عنها) هم وکړه او ویل به یې، دې لپاره چې زموږ صدقه باقي پاتې شي او په دغه دعا سره د دې بدله پوره نه شي.[3]

---

۱. سنن أبي داود-ن-(۲ / ۳۳۹)

۲. مسند أحمد - (۴ / ۱۵۲)

۳. مستند مسنون – ۱۲۳مخ.

**۶۶) د پرنجې پرمهال دعا:**

[الْحَمْدُ لِلَّهِ] - [يَرْحَمُكَ اللَّهُ] - [يَهْدِيكُمُ اللَّهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ].[1]

ژباړه: [ټولې ستاينې الله لره دي] - [الله دې پر تا رحم وکړي] - [الله دې لاربښودنه وکړي تاسو ته او ښه دې کړي حال ستاسې].

**يادونه:**

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي، کله چې يو تن پرنجى وکړي، نو [الْحَمْدُلِلَّهِ] دې ووايي او اوربدونکى دې ورته [يَرْحَمُكَ اللَّهُ] ووايي، پرنجى کوونکى دې ورته ووايي: [يَهْدِيكُمُ اللَّهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ].

**۶۷) کافر ته د اپرنجې پرمهال دعا:**

يَهْدِيكُمُ اللَّهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ.[2]

ژباړه: الله دې لاربښودنه وکړي تاسو ته او ښه دې کړي حال ستاسې.

**يادونه:** کافر چې کله پرنجى وکړي او (الْحَمْدُلِلَّهِ) ووايي، نو هغه ته (يَرْحَمُكَ اللَّهُ) ويل نه دي پکار، بلکې دا دعا به ورته ووايي.

**۶۸) د مجلس نه د پاڅېدلو دعا:**

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لا إِلَـهَ إِلا أَنْـتَ، أَسْـتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ.[3]

---

۱. صحيح البخاري ت- (۱۵/ ۵۰۲) -زاد المعاد ۳۲۰مخ.
۲. شعب الإيمان- (۷/ ۲۸) .
۳. المعجم الكبير للطبراني - (۲/ ۱۸۵)

ژباړه: ای الله! ته پاک یې او صفتونه د کمال تا لره دي زه ګواهي ورکوم، چې نشته لایق د بنده ګۍ پرته له تانه زه بښنه غواړم ستا نه او توبه وباسم تاته.

**یادونه او ګټه:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: څوک چې یو ځای کې کېني او بې ځایه خبرې وکړي او له پاڅېدو نه وړاندې دا دعا ووايي، الله تعالی به دده د ناستې(مجلس)، ټول ګناهونه ده ته وبښي او که د نېکۍ مجلس وي، نو دا دعا به د مُهُر په شان شي.

**۶۹) مجلس کې استغفار کول:**

رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَتُبْ عَلَيَّ إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ[۱]

ژباړه: ای پالونکیه! بښنه وکړې ما ته او مهرباني وکړه پرما، یقیناً ته توبه قبلوونکی او مهربان یې.

**ګټه:** صحابه کرام رضي الله تعالی عنهم وايي: موږ به د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره په یوه مجلس کې سل ځلې استغفار شمېره.

هره ناسته کې څه ناڅه د الله تعالی ذکر، یا پر رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې درود ویل په کار دي، که داسې ونه شي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي، دا خلک به خامخا نقصان او تاوان کې غورځېږي او مثال به یې داسې وي؛ لکه د مردار خر نه چې څوک پاڅېږي.

۱. سنن أبی داود-ن-(۱/ ۵۵۹)

**۷۰) کله چې تاته څوک ووايي: (زما له تا سره مينه ده) نو ته ورته داسې ووايه:**

أَحَبَّكَ اللهُ الَّذِيْ أَحْبَبْتَنِيْ لَهُ.[۱]

ژباړه:

مينه دې وکړي تا سره الله هغه ذات، چې د هغه لپاره ته ما سره مينه کوې.

**۷۱) د حجراسود د ښکلولو دعا:**

بِسْمِ اللَّهِ وَاللَّهُ أَكْبَرُ.[۲]

**۷۲) د هر لمانځه نه وروسته دا دعا ويل:**

اَللَّهُمَّ أَعِنِّيْ عَلَىٰ ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ.[۳]

ژباړه: اې الله! ما سره مرسته وکړې، ستا په ذکر کولو او شکر کولو او ښايسته عبادت کولو باندې.

**ګټه:**

معاذ بن جبل رضی الله تعالى عنه ويلي: يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم زما لاس ونيوه بيا يې وويل: معاذه! زه له تا سره مينه کوم، معاذ وويل: زما پلار او مور دې له تا نه ځار شي، اې د الله رسوله! زه هم له تا سره مينه کوم هغه وويل: معاذه! زه تا ته وصيت کوم چې مه پرېږده وروسته له هر لمانځه نه دا دعا.

د ابوهريرة رضی الله تعالى عنه په روايت کې د (أَعِنِّيْ) پر ځاى (أَعِنَا) هم راغلي.

---

۱. المستدرک-(۴/ ۱۸۹)

۲ مستند مسنون-۱۷۰مخ.

۳ .. ب المفرد بالتعليقات-(۱/ ۱۷۴)-مونځ په رڼا د احاديثو کې ۱۷۹مخ.

**۷۳، د وترو دعا:**

اَللّٰهُمَّ اهْدِنِيْ فِيْمَنْ هَدَيْتَ وَعَافِنِيْ فِيْمَنْ عَافَيْتَ وَتَوَلَّنِيْ فِيْمَنْ تَوَلَّيْتَ وَبَارِكْ لِيْ فِيمَا أَعْطَيْتَ وَقِنِيْ شَرَّ مَا قَضَيْتَ إِنَّكَ تَقْضِيْ وَلَا يُقْضَىْ عَلَيْكَ وَإِنَّهُ لاَ يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ وَلاَ يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ.(۱)

ژباړه:

اې الله! هدایت وکړه ماته په هغه چا کې چې تا ورته هدایت کړی دی او جوړ وساته ما (په دنیا او اخرت کې) په هغه خلکو کې چې تا روغ ساتلي دي او دوستي وکړه ماسره په هغه خلکو کې چې تا ورسره دوستي کړې ده او برکت واچوه ما لپاره په هغه څه کې چې تا راکړي دي او وساته مالره د شر له فیصلې ستا نه، یقیناً ته فیصله کوې او ستا په مقابله کې څوک فیصله نه شي کولای، یقیناً نه ذلیل کېږي هغه څوک چې ته ورسره مینه وکړې او نه عزتمند کېږي هغه څوک چې ته ورسره دښمني وکړې برکت اچوونکی یې ته ای ربه زموږ او اوچت یې ته

**۷۴، د لیلة القدر د لیدلو دعا:**

اللّٰهُمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّيْ.(۲)

ژباړه: اې الله! ته معافي کوونکی یې د معافۍ سره مینه لرې، نو ماته معافي وکړه.

۱. سنن أبی داود-ن-(۱/ ۵۳۲)

۲. مسند أحمد-(۴۲/ ۲۳۲)

**۷۵) د میزان (تلې) د دروند کلمې:**

[سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ] [سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَلِمَتَانِ حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ [سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ] - [سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ].[۱]

**ګټه:**

له ابو هریره رضي الله تعالی عنه نه روایت دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: دوه کلیمې (الله تعالی ته ډېرې ګرانې دي، پر ژبه اسانې دي او د میزان په تله کې درنې دي).

**۷۶) دین کې د پوهې غوښتلو دعا:**

اَللّٰهُمَّ فَقِّهْنِیْ فِي الدِّيْنِ.[۲]

ژباړه: ای الله جل جلاله ما ته په دین کې پوهه راکړې.

**یادونه:**

دا دعا حدیث کې راغلې او پردې باندې د بخاري او مسلم هغه حدیث دلالت کوي، چې هغه کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د بن عباس رضی الله تعالی عنهما لپاره دعا کړې وه.

**۷۷) د غم (ناورین) د رسېدلو پرمهال دعا:**

إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ. اللَّهُمَّ أْجُرْنِيْ فِيْ مُصِيبَتِيْ وَأَخْلِفْ لِيْ خَيْرًا مِنْهَا..[۳]

---

۱. صحیح البخاري ت - (۱۹ / ۲۸)

۲. صحیح البخاري ت - (۱ / ۱۴۹)

۳. السنن الکبری للبیهقي ط المعارف بالهند - (۴ / ۶۵)

ژباړه:

- یقیناً موږ الله لره یو او یقیناً موږ هغه لور ته بېرته ستنېدونکي یو، ای الله! ماته د دغه غم په بدل کې اجر راکړې او په بدل کې یې له هغه څخه غوره راکړې.

**یادونه:**

- رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: کوم بنده ته چې غم ورسېږي او فوراً پورتنۍ دعا ووایي، نو الله تعالی به د غم او ناورین رسېدلو سره هغه ته اجر ورکړي او له هغه څخه به غوره بدله ورکړي.

**۷۸) د فرض لمانځه وروسته دعاګانې او ذکرونه:**

کعب بن عجره رضی الله تعالی عنه ویلي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د هر فرض لمانځه نه وروسته د لوستلو څو کلیمات دي، چې د هغې ویونکی یا یې وویل: د هغې کوونکی به (د ثواب حاصلولو نه محروم نه شي) او هغه کلیمات دا دي:

سُبْحَانَ اللّٰهِ ۳۳ ځلې.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ۳۳ ځلې.

اَللّٰهُ أَكْبَرُ ۳۴ ځلې.

**یادونه:**

حدیث کې د بېته معقبات له دوو وجو نه ویل شوي، لومړی دا چې دا د لمانځه نه وروسته ویل کېږي، دوهم د یو بل نه وروسته ویل کېږي، یانې په یو ځل په طریقه د جمعه سره نه ویل کېږي.

لس لس کرته ویل یې هم د ډېر اجر لري، چې د پینځو لمونځو حساب سره مجموعه نېکۍ (۱۵۰۰) پینځلس سوه کېږي، ځکه یوه

نېکي په لس چنده ده او چې ۳۳ کرته يې ووايي، نو مجموعه نېکۍ پينځه زره شوې[1]

۷۹) لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ.[2]

ژباړه: له الله تعالی پرته هېڅوک حقدار د بنده ګۍ نه شته، هغه يو دی، هيڅ شريک يې نشته، هغه لپاره بادشاهي ده او هغه لپاره د کمال صفتونه دي او هغه په هرڅيز باندې قادر دی. ای الله! ته چې کوم څيز ورکوې، د هغې څوک منع کوونکی نشته او کوم څيز چې ته منع کوې د هغې څوک ورکوونکی نشته او دولتمند لره د هغه دولت ستا د عذاب نه نشي بچ کولی.

**يادونه:**

رسول الله صلی الله عليه وسلم به د هر فرض لمانځه نه وروسته دا دعا کوله.

**۸۰) له هر لمانځه وروسته معوذات ويل:**

قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ۝ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ۝ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ۝ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌ۝

ژباړه: ته ووايه هغه الله تعالی يو دی، الله تعالی بې حاجته دی، نه له ده نه څوک پيدا شوی او نه دی له چا نه پيدا شوی او نشته ده لره هم صفت هېڅوک.

---

۱. الحق الصريح ۴۳۲-۴ج.

۲. صحيح البخاري ت-(۲/ ۲۵۵) الحق الصريح -۴ج.

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلْفَلَقِ ۝ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ۝ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ۝ وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِى ٱلْعُقَدِ ۝ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ۝

ژباړه: ته ووایه! پناه غواړم په رب د ښکاره کولو سره، د شر د هغه څیز نه چې پیدا کړي دي هغه او د شر د تیارې والا نه، هر کله چې تیارې راوغوړوي او د شر د پوکیو کوونکو نه په غوټو کې او د شر د کینه کوونکي نه کله چې کینه ښکاره کړي

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ۝ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ۝ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ۝ مِن شَرِّ ٱلْوَسْوَاسِ ٱلْخَنَّاسِ ۝ ٱلَّذِى يُوَسْوِسُ فِى صُدُورِ ٱلنَّاسِ ۝ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ۝ (۱)

ژباړه: ته ووایه! پناهي غواړم په رب د انسانانو، بادشاه د انسانانو، حقدار د بنده ګۍ د انسانانو، د شر د وسوسو اچوونکو نه چې پټېدونکی دی، هغه چې وسوسې اچوي په سینو د انسانانو کې، د پېریانو او د انسانانو نه.

عقبه بن عامر رضی الله تعالی عنه ویلي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته حکم کړی دی، چې د هر لمانځه وروسته معوذات ولولم(۲)

**یادونه**: علامه شوکاني رحمه الله علیه وایي، معوذات نه مراد اخري دوه سورتونه دي، لېکن په حدیث د ابي امامه کې نقل دا سی دي: (چې [قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ] چا لمانځه نه وروسته ولوسته جنت ته له ننوتلو نه به یې له مرګه پرته بل څیز منع نه کړي، په همدې اساس

۱. القرآن الکریم- سورة الاخلاص- سورة الفلق- سورة الناس

۲. الحق الصریح ۴۴۳مخ- ۴ج

[قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ] هم په معوذاتو کې داخل دی) دا درې سورتونه په دې پرو ځايونو کې لوستلی شي.

لکه:

۱) په سبا - بېګا کې.

۲) د مصيبت په وخت.

۳) د هوا راتلو وخت کې د لمانځه نه پس.

۵) د مريض د عيادت (پوښتنې) په وخت (دم دی).[۱]

**۸۱) د هر لمانځه وروسته اية الکرسي ويل:**

ٱللَّهُ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْحَىُّ ٱلْقَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُۥ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ مَن ذَا ٱلَّذِى يَشْفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَىْءٍ مِّنْ عِلْمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفْظُهُمَا وَهُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْعَظِيمُ۝[۲]

ژباړه: الله ! نشته حقدار د بنده ګۍ پرته له هغه نه، ژوندی دی (همېشه)، انتظام کوونکی د ټول عالم، نه راځي په ده هيڅ غفلت او نه خوب، خاص د هغه په اختيار کې دي، هغه څه چې په اسمانونو او هغه څه چې په ځمکه کې دي، څوک دی هغه کس چې سفارش وکړي په نزد دده، مګر په اجازت دده، پوهېږي پر هغه څه چې مخکې د دوی دي او هغه څه چې وروسته د دوی دي او طاقت نه لري دوی د هيڅ شيز د علمونو د هغه نه؛ مګر په هغه څه چې وغواړي الله تعالی، ځای کړي دي کرسي د هغه اسمانونو او

۱. الحق الصريح ۴۴۳مخ- ۴ج.

۲. سورة البقرة، الاية ۲۵۵.

ځمکې لره او نه ستړی کوي هغه لره ساتنه ددې دواړو او دی بره دی، لوی دی.

**ګټه**: علي رضی الله تعالی عنه ویلي: (ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د منبر په دې لرګو واورېدل، چې ویل یې: چا چې د هر لمانځه نه وروسته اية الكرسي ولوسته، هغه به جنت ته له ننوتلو نه پرته له مرګ نه هیڅ شی منع نه کړي او څوک چې اية الكرسي د خوب ځای ته د تللو په وخت کې ووایي، نو الله تعالی به ده ته دده په کور او د ګاونډي په کور او نور کورونه چې دده نه چاپېره دي امن ورکړي)

حافظ بن القيم رحمه الله علیه ویلي: ځیني علماء دا حدیث صحیح ګڼي او ځیني ضعیف ګڼي، لیکن ددې لپاره ډېر طرق دي چې ټول راجمع شي، نو دلالت کوي چې ددې حدیث لپاره اصل شته او موضوع نه دی او وایي چې شیخ الاسلام بن تیمیة رحمه الله فرمایي چې ما آية الكرسي د هر لمانځه نه وروسته نه ده پرې ایښې.

**۸۲**) اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ الْبُخْلِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ الْجُبْنِ وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ.[۱]

ژباړه: ای الله ! زه پناه غواړم په تا سره د بخل نه او پناه غواړم په تا سره د بزدلۍ نه او پناه غواړم په تا سره له دې نه چې وګرځولی شم سپک عمر ته او پناه غواړم په تا سره د فتنې د دنیا نه او پناه غواړم په تا سره د قبر له عذاب نه.

۱. صحیح البخاري ت - (۱۴۰/۱۲)

**یادونه:**

سعدبن ابي وقاص رضی الله تعالی عنه نه روایت دی: هغه به زامنو ته ددې کلیماتو تعلیم ورکاوه؛ لکه چې استاد شاګردانو ته تعلیم ورکوي او ویل یې، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د فرض لمانځه وروسته په دې سره پناهي غوښتله.

**۸۳) پر دین باندې د زړه د کلکوالي دعا:**

اَللّٰهُمَّ يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِيْ عَلَى دِينِكَ.(۱)

ژباړه: ای د زړونو اړوونکیه ربه! زما زړه ستا پر دین باندې ټینګ او ثابت وګرځوه.

**یادونه:**

ام المؤمنین سلمه رضي الله تعالی عنها ویلي: رسول الله صلی الله علیه به دا دعا زیاته کوله.

**۸۴) د ګټور علم د غوښتنې دعا:**

اَللّٰهُمَّ انْفَعْنِيْ بِمَا عَلَّمْتَنِيْ وَعَلِّمْنِيْ مَا يَنْفَعُنِيْ وَ زِدْنِيْ عِلْمًا.(۲)

ژباړه: ای الله جل جلاله! ما پر هغه څه ګټور کړه له علم څخه، چې تا پرې زه پوه کړی یم او ماته هغه علم راکړه، چې ماته ګټه ورسوي او زما پوهه زیاته کړه.

۸۵) اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ أَنْ أُشْرِكَ بِكَ وَ أَنَا أَعْلَمُ وَ أَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لاَ أَعْلَمُ.(۳)

---

۱. الأدب المفرد بالتعلیقات - (۱/ ۱۲۲)

۲. سنن ابن ماجه - (۱/ ۹۲)

۳. مسند أبي یعلی - (۱/ ۲۲)

ژباړه: ای الله جل جلاله! زه په تا سره پناه غواړم له دې څخه چې زه له تا سره شرک وکړم، چې زه پرې پوهېږم او له هغه شرک څخه هم چې زه پرې نه پوهېږم.

**۸۶) د اوداسه مسنون اذکار او دعاګانې:**

بِسْمِ اللَّهِ.

ژباړه: پیل کوم په نوم د الله جل جلاله.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لا إِلَـهَ إِلا أَنْـتَ، أَسْـتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ.(۱)

ژباړه: ای الله تعالی! ته پاک یې او صفتونه د کمال تا لره دي، زه ګواهي ورکوم، چې نشته لایق د بندګۍ پرته له تا نه زه بښنه غواړم ستا نه او توبه وباسم تا ته.

**ګټه:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: چا چې دا دعا ولوستله، نو دا به په یو کاغذ (پاڼه) ولیکل شي او هغه نه پرانیستل کېږي (مګر په ورځ د قیامت) یانې ده لره به د هغې بدله خامخا ورکول کېږي او په دې کې اشاره ده، چې دده اخره خاتمه به ښه وي.

**یا دا چې:**

أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْـدُهُ وَرَسُولُهُ، اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ، وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ.(۲)

ژباړه: زه ګواهي کوم، چې د الله تعالی نه پرته، بل د بندګۍ

۱. سنن النسائي الکبری - (۲/ ۲۵)

۲. السنن الصغری - (۱/ ۳۹)

CamScanner

لایق نشته او ګواهي کوم ددې چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله بنده او د هغه رسول دی. ای الله! ما وګرځوې له توبه ویستونکو او پاکې خوښوونکو نه.

**ګټه:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: چا چې دا ذکر د اودس کولو نه وروسته ولوسته، نو د جنت اته واړه دروازې به ورته پرانیستل شي، په کومه دروازه چې دی غواړي، داخل به شي.

**۸۷) د نکاح دعاګانې:**

اَلْحَمْدُ لِلَّهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلا هَادِيَ لَهُ، أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَـــهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ، وَرَسُولُهُ، (اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلا تَمُوتُنَّ إِلاَّ وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ)، (اتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ إِنَّ اللَّـــهَ كَـــانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا)، (اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلا سَدِيدًا يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِـــرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا).[۱]

**یا داسې:**

اَلْحَمْدُ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلا سَدِيدًا"[الاحزاب آية ۹]، "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلا تَمُوتُنَّ إِلا وَأَنْتُمْ مُسْـــلِمُونَ"[آل عمران آية ۱۰۲]، "يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ"[النساء آية

---

۱. السنن الصغرى - (۲ / ۲۲۵)

CamScanner

۱] إِلَى آخِرِ الآيَةِ، أَمَّا بَعْدُ.(۱)

**يادونه:**

عبدالله بن عمر رضي الله تعالى عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم موږ ته دا خطبې د هر حاجت پرمهال ښودلې دي.

**۸۸) د مړي کوروالاوو ته د تعزية (تسلی) دعا:**

أَنَّ لِلَّهِ مَا أَخَذَ وَلَهُ مَا أَعْطَى وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُ بِأَجَلٍ مُسَمًّى فَلْتَصْبِرْ وَلْتَحْتَسِبْ.(۲)

ژباړه:

د الله لپاره دي، هغه څه چې وايې خيستل او د هغه دي، هغه څه چې ورکوي يې او هر څه شی له هغه سره په يوه نېټه مقرر دی، پس صبر دې کوي او ثواب دې ګڼي دا مصيبت.

**۸۹) له ناوړه ناروغيو څخه د نجات غوښتنې دعا:**

اَللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبَرَصِ وَالْجُنُونِ وَالْجُذَامِ وَمِنْ سَيِّئِ الأَسْقَامِ.(۳)

ژباړه:

ای الله! زه په تا سره پناه غواړم د برص (پيس) له ناروغۍ، له لېونتوب، له جذام (اندام پرېوتلو) او له نورو ناوړو ناروغيو څخه

**۹۰) له پينځو بدمرغيو څخه د ځان ژغورنې دعا:**

اَللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ يَوْمِ السُّوءِ، وَمِنْ لَيْلَةِ السُّوءِ، وَمِنْ سَاعَةِ

---

۱. المعجم الكبير للطبراني - (۸ / ۴۲۸)

۲. صحيح البخاري ت - (۱۸ / ۳۷۹)

۳. سنن أبى داود - ن - (۱ / ۵۲۹)

السُّوءِ، وَمِنْ صَاحِبِ السُّوءِ، وَمِنْ جَارِ السُّوءِ فِي دَارِ الْمُقَامَةِ.[۱]

ژباړه:

ای الله! زه په تا سره پناه غواړم له بد مرغي ورځې څخه او له بد مرغي شپې څخه او له بد مرغه ساعت او شېبې څخه او له ناوړه ملګري څخه او له ناوړه ګاونډي څخه تل د هستوګنې په کور کې.

**۹۱) د دعا د قبلېدو دعا:**

اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ يَا أَللّٰهُ بِأَنَّكَ الْوَاحِدُ الْأَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ أَنْ تَغْفِرَ لِي ذُنُوبِي إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ.[۲]

ژباړه: ای الله! په تحقیق سره زه له تا څخه غوښتنه کوم، یا الله! ځکه چې ته یو یې، بې پروا یې، هغه ذات چې نه ور څخه څوک زیږېدلی او نه له چا څخه زیږول شوی دی او نه ده لره سیال شته، یو دی، نو زما ګناهونه وبښه، ځکه چې ته بښونکی او مهربان یې.

**۹۲) کور ته د ننوتلو دعا:**

اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلِجِ وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ بِسْمِ اللّٰهِ وَلَجْنَا وَبِسْمِ اللّٰهِ خَرَجْنَا وَعَلَى اللّٰهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا.[۳]

ژباړه: ای الله! زه له تا نه غوره ځای د ننوتلو غواړم او غوره ځای د وتلو، د الله تعالی په نوم سره ننوتلو او د الله تعالی په نوم سره ووتلو او پر خپل رب باندې مو ځان وسپارلی.

**یادونه:** رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي له دعا وروسته

۱. المعجم الکبیر للطبراني - (۱۲/ ۳۲۱)
۲. سنن النسائي - (۳/ ۵۲)
۳. سنن أبی داود - ن - (۴/ ۴۸۲)

CS CamScanner

دې، خپلې کورنۍ باندې سلام واچوي.

**۹۳) کور نه د وتلو دعا:**

بِسْمِ اللَّهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ، لا حَوْلَ وَلا قُوَّةَ إِلا بِاللَّهِ.[۱]

ژباړه: په نوم د الله پیل کوم ځان مې په الله سپارلی دی، نشته له ګناه نه اوړېدل او نه د نېکۍ توفیق ورکول مګر په الله تعالی.

**ګټه**: رسول الله ﷺ ویلي: کله چې انسان له کوره وځي او دا دعا ولولي، نو ده ته به وویل شي، چې شیطان نه ستا ساتنه وشوه، هدایت درته وشو، الله تا لپاره کافي شو، نو یو شیطان بل سره مخامخ شي او وایي چې ته به څنګه دا بې لارې کړې؟ چې الله تعالی دده کافي شوی دی، هدایت ورته شوی دی او له شیطان نه حفاظت شوی دی.[۲]

**۹۴) رکن یماني او حجر اسود ترمنځ دعا:**

رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَــذَابَ النَّــارِ.[۳]

ژباړه: ای زموږ پالونکیه! موږ ته په دنیا کې نعمت راکړې او په اخرت کې هم نعمت راکړې او د دوزخ له اور نه مو وساتې.

**یادونه:**

رسول الله صلی الله علیه به د یماني رکن او حجر اسود ترمنځ دا دعا ویله.

**۹۵) د عرفې په ورځ دعا:**

لاَ إله إلاَّ اللَّهُ وحْدَهُ لاَ شَريكَ لَهُ لَهُ المْلْكُ ولَهُ الحمدُ وهُوَ عَلَى كُــلِ

۱. المعجم الکبیر للطبراني - (۸ / ۹۲)
۲. الأحادیث المختارة للضیاء المقدسي - (۲ / ۲۳۸)
۳. شعب الإیمان - (۳ / ۴۵۳)

شئٍ قَدِيرٌ.

**یادونه:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: دا هغه دعا ده، چې ما او زما نه مخکې پېغمبرانو ویلې.[1]

**۹۶) د کوم قوم یا ښمن نه د وېرې پرمهال دعا:**

**اللَّهُمَّ اكْفِنِيهِمْ بِمَا شِئْتَ.**[2]

ژباړه:

ای الله! څنګه چې ته غواړې، هماغسې مې د هغوی له شر څخه وساته.

۹۷) عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دی، دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی ته حدیث بیان کړي چې د الله تعالی له بنده ګانو څخه یوه بنده وویل:

يَا رَبِّ لَكَ الْحَمْدُ كَمَا يَنْبَغِي لِجَلَالِ وَجْهِكِ وَلِعَظِيمِ سُلْطَانِكَ.[3]

لیکونکو پرښتو باندې ددې کلیماتو یا د ساتل او لیکل ډېر سخت تمام شو پرښتې اسمان ته لاړې ویې ویل: ای الله! ستا بنده داسې (مقاله) او کلیمات ویلي دي، موږ نه پوهېږو چې څرنګه یې ولیکو الله تعالی سره له دې چې د بنده له خوا په ویل شویو کلیماتو او ذکر ښه پوهېده، خو له پرښتو یې وپوښتل زما بنده څه وویل، پرښتو ورته وویل: ای زموږ ربه! هغه دا کلیمات بو ستلي. الله تعالی پرښتو ته وویل: څرنګه چې زما بنده ویلي

۱- ... المسلم ۱۲۷مخ.
۲- المسلم ۱۳۰مخ.
۳- ... الکبیر (۱۲/ ۳۴۳)

هما غسې يې وليکئ، کله چې زما بنده له ما سره ملاقات وکړي زه به يې بدله ورکړم.(۱)

**۹۸) د غمونو او پورونو د لرې کولو دعا:**

**اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ وَقَهْرِ الرِّجَالِ.(۲)**

**ګټه:**

ابی سعيد الخدری رضی الله تعالی عنه ويلي، يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم جومات ته ننوت د ابو امامة په نامه د انصارو يو سړی يې جومات کې ناست وليد، رسول الله صلی الله عليه وسلم ووېيل: ابو امامه څنګه دې د لمانځه د وخت پرته په جومات کې ناست وينم.

هغه ووېيل: ای رسول الله! ډېرو غمونو او پورونو راګېر کړی يم، رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته ووېيل: تاته داسې کلام ونه ښايم چې د هغې د وينا په اساس به الله تعالی ستا غمونه لرې کړي او ستا پورونه به ستا له غاړې ادا کړي.

ابي سعيد الخدري رضي الله تعالی عنه وايي، ما ووېيل: ای رسول الله صلی الله عليه وسلم! هغه کلام وښايئ؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم ووېيل: د سبا او بېګا پر مهال دا دعا وايه ابو امامة! وايي ما دا کار وکړ، نو الله تعالی زما غم لرې

---

۱. اذکار الصباح والمساء الصحيحة\ امام الشهيد عبدالله عزام.

۲. سنن أبی داود-ن-(۱/ ۵۲۹)

کړ او زما له غاړې يې پور ونه ادا کړل.[۱]

**۹۹ ، اسم اعظم:**

وَإِلَـٰهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لاَّ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ.[۲]

ژباړه:

او حقدار د بنده ګۍ ستاسو معبود يو دی، نشته د خدايیتوب صفتونو والا پرته له هغه نه، عام مهربانه او خاص رحم کوونکی دی.

الٓمٓ. ٱللَّهُ لَآ إِلَـٰهَ إِلاَّ هُوَ ٱلْحَىُّ ٱلْقَيُّومُ.[۳]

ژباړه: الف لام ميم (الله تعالی ددې په مانا پوهېږي)، نشته حقدار د بنده ګۍ پرته له هغه نه، همېشه ژوندی دی او انتظام کوونکی د عالم دی.

اَللهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ بِأَنَّ لَكَ الْحَمْدُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ الْحَنَّانُ الْمَنَّانُ بَـدِيْعُ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ يَاذَا الْجَلاَلِ وَالْإِكْرَامِ يَا حَيُّ يَا قَيُّوْمُ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ.[۴]

ژباړه: ای الله! زه له تا نه سوال کوم، په دې وجه چې تا لره ټولې ستاینې دي، نشته لایق د بنده ګۍ پرته له تا نه، ای رحم کوونکیه او مهربانه، ای زيات احسان کوونکيه! ای د اسمانونو او ځمکې نا اشنا پيدا کوونکيه! ای د لويې او عزت څښتنه! ای د همېشني ژوند خاونده! ای د کائيناتو پالونکيه او د نظام چلوونکيه! زه له تانه سوال کوم.

---

۱. اذکار الصباح والمساء الصحيحة-الامام الشهيد عبدالله عزام.

۲. سورة البقرة -(۱۲۳ اية).

۳ سورة ال عمران (۱-۲ ايتونه).

حديث المختارة للضياء المقدسي - (۲/ ۳۷۱)

**ګټه:**

انس رضی الله تعالی عنه وايي، رسول الله صلی الله علیه وسلم سره جومات کې ناست وم، يو سړي لمونځ وکړ او بيا يې داسې دعا وکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم وويل، دې سړي د الله تعالی په هغه اسم اعظم سره دعا وکړه، چې کله په دې دعا سره، دعا وکړای شي قبلېږي او که څه څيز پرې وغوښتل شي ورکول کېږي.

**۱۰۰) د صلاة التسبيح دعا:**

سُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ.

**ګټه او يادونه:**

عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم عباس بن عبد المطلب ته وويل: ای عباس ای تره! ايا زه تا ته عطيه در نه کړم، ايا زه تا ته تحفه درنه کړم، ايا زه تا ته ونه ښايم، ايا زه په تا باندې لس خصلتونه (کارونه) ونه کړم؟ چې که ته هغه اختيار کړې، نو الله تعالی به ستا ګناهونه مخکيني، وروستني، پخواني او نوي، سهواً او قصداً، کوچني او غټ، پټ او ښکاره (ټول ګناهونه) وبښي، (هغه دا دي) چې ته څلور رکعته لمونځ په داسې طريقه وکړې، چې په هر رکعت کې سورة فاتحه او يو سورت ولولې، کله چې په لومړي رکعت کې د قرائت نه فارغ شې او ته ولاړ يې، نو پينځلس ځلې به دا تسبيح ووايې: (سُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ)، بيا به رکوع وکړې، په هغې کې به يې لس ځلې ووايې، بيا د رکوع نه سر پورته کړې (سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ) نه وروسته په ولاړه کې به لس

څلې ووایې، بیا سجدې ته لاړ شې او په سجده کې به لس څلې ووایې، بیا به سجدې نه سر پورته کړې (د دوو سجدو منځ کې) لس څلې ووایې، بیا به سجده وکړې او په سجده کې به یې لس څلې ووایې، بیا به سر پورته کړې، په جلسه د استراحت کې به لس څلې ووایې، نو دا په هر رکعت کې پینځه اویا څلې شو، دغه شان کار به په څلورو رکعتونو کې کوې.

که ستا طاقت وي، چې دا لمونځ هره ورځ یو ځل وکړې، نو ویې کړه او که هره ورځ یې نه شې کولای، نو په هره جمعه کې یې یو ځل کوه او که په هره جمعه کې یې نه شې کولای، نو په هره میاشت کې یې یو ځل کوه او که په هره میاشت کې یې نه شې کولای، نو په هر کال کې یې یو ځل کوه او که په هر کال کې یې نه شې کولای، نو په ټول عمر کې یې یو ځل (خو ضرور) وکړه.[۱]

۱. الحق الصریح ۵جلد - ۳۷۴مخ.

## سرچيني

۱. القرآن الكريم.
۲. تفسير احسن الكلام.
۳. تفسير بن كثير – بيروت چاپ.
۴. صحيح البخاری.
۵. صحيح المسلم.
۶. سنن ابی داود.
۷. سنن نسائی.
۸. سنن بن ماجه.
۹. سنن الترمذی.
۱۰. السنن الصغری.
۱۱. سنن النسائي الكبری.
۱۲. السنن الكبری للبيهقي، ط المعارف بالهند
۱۳. موطأ مالک.
۱۴. مسند الشافعی، ترتيب السندی.
۱۵. مسند احمد.
۱۶. مسند الصحابة في الكتب الستة.
۱۷. مسند أبي يعلی.
۱۸. المعجم الكبير.
۱۹. المعجم الكبير للطبراني.
۲۰. المعجم الصغير للطبراني.
۲۱. المستدرک.
۲۲. الطبقات الكبری لبن سعد.

۲۳. الأدب المفرد بالتعليقات.
۲۴. شعب الإيمان.
۲۵. الأحاديث المختارة للضياء المقدسي.
۲۶. زاد المعاد-بيروت چاپ.
۲۷. اذكار الصباح والمساء الصحيحة\ امام الشهيد عبدالله عزام.
۲۸. الدعا من الكتاب والسنة.
۲۹. حصن المسلم.
۳۰. نيل المرام فئ ترجم بلوغ المرام..
۳۱. مونځ په رڼا د احاديثو كې، علامه عبدالسلام.
۳۲. مستند مسنون.